# Higher Education Weekly

شماره یکصدو نودویکم - سال نهم- جوزا ۱۴۰۱ هـ.ش

https://mohe.gov.af


## د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې د مقررې د ځینو موادو د تعدیل په اړه بحث وشو




همدارنګه د یو شمېر تحصیلي بنسټونو د بیاکتنې پر راپورونو بحث وشو.

د لوړو زده کړو وزارت د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې رئیس شاکر وحیدي په مشرۍ په دغه ناسته کې، د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې د بورډ غړو، د یو شمېر خصوصي تحصیلي بنسټونو مرستیالانو او د لوړو زده کړو وزارت د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې جلسه دایره او د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې د مقررو د ځینو موادو د تعدیل او

۷

## هیئت وزارت امر به معروف و نهی از منکر، نشستی را در وزارت تحصیلات عالی برگزار نمود

هیئت وزارت امر به معروف و نهی از منکر، نشستی مشترک را با رهبری، مسؤلان و کارمندان وزارت تحصیلات عالی برگزار کرد.



این نشست که با تلاوت آیات چند از قرآنکریم آغاز شد، نخست شیخ شاکرالله وحدت رئیس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی سخنرانی کرد.

بعداً، مولوی رازمحمد عضو هیئت وزارت امر به معروف و نهی از منکر در مورد اهمیت استقلال، آزادی و قربانی دادن مردم در کشور صحبت نموده، از اعضای حاضر خواست که از جفا نمودن به خون شهداء و غرور خودداری کرده، به اصول نظام متعهد باشند.

۷

## په کندهار ولایت کې د څلورو خصوصي لوړو زده کړو مؤسسو څارنه او ارزونه ترسره شوه



د لوړو زده کړو وزارت د څارنې او ارزونې ریاست پلاوي په کندهار ولایت کې د څلورو خصوصي لوړو زده کړو مؤسسو څارنه او ارزونه وکړه.

د یاد پلاوي مشري، چې د لوړو زده کړو وزارت د څارنې او ارزونې ریاست، د خصوصي تحصیلي بنسټونو د لیسانس برخې د څارنې او ارزونې آمر قاضي عبدالباري غفاري کوله، په کندهار ولایت کې د میرویس نیکه، بېنوا، سبا او ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې له نیږدې وڅارلې او هر اړخیزه ارزونه یې وکړه. نوموړي پلاوي د یادو خصوصي تحصیلي مؤسسو له مسؤلینو وغوښتل چې په اسلامي، اخلاقي او علمي

۷

## رئیس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی از مؤسسه تحصیلات عالی اهل بیت دیدار نمود



رییس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی از مؤسسه تحصیلات عالی اهل بیت دیدار نمود.

۷


صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: مدیرجان کوټوال
هیأت تحریر: اخترمحمد عبیر، محمد اسلم اسلم و ناصر خان شیرزی
ګزارشګران: کاوون رمز، محب الله امیري و قاسم جویا
تصویر بردار: احمد سیر معرفت
صفحه آرا: عنایت الله حنیفی
مصحیح: الفت الله حلیم

جمع آوری مواد هفته نامه: زمری یعقوبی
نشانی: کارته چهار, کابل افغانستان
سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی
تیراژ: ۲۵۰ نسخه
محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی
وب سایت وزارت:www.mohe.gov.af
شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵
آدرس الکترونیکی:ministrymohe@gmail.com


**ګرانه لوستونکیه!**

که تا سي غواړئ چې ستا سو لیکنې په لوړو زده کړو اونیزه کې خپرې شي، نو کولای شئ چې خپلې لیکنې، نیک نظرونه او سالم وړاندیزونه په لاندې پتو را ولیږئ.

**خوانندگان گرانقدر!**

تقاضامندیم نظریات و پیشنهادات تان را جهت بهبود نشرات این هفته نامه با ما شریک نموده و همچنان مطالب و نوشته های تان را جهت نشر در این هفته نامه از طریق ایمیل و یا به شکل مستقیم به ریاست اطلاعات، نشرات و روابط عامه ارسال دارید.


# لوړو زده کړو اونیزه — هفته نامه تحصیلات عالی

۱۹۱ مه ګڼه – نهم کال - ۱۴۰۱ هـ.ل - غبرګولی

https://mohe.gov.af


## د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د جاپان له سفیر سره وکتل



د لوړو زده کړو سرپرست وزیر مولوي عبدالباقي حقاني په خپل کاري دفتر کې د جاپان له سفیر «تاکاشي اوکاډا» سره وکتل.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د جاپان سفیر ته د ښه راغلاست تر څنګ، په افغانستان کې د روان تحصیلي نظام په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل، چې جاپان هم یو وخت زموږ په شان له ستونزو سره مخ و، خو اوسمهال د نړۍ یو پرمختللی هېواد دی. نوموړي زیاته کړه، چې موږ د لوړو زده کړو د پرمختګ لپاره د جاپان تجربو او همکاریو ته اړتیا لرو.

دغه راز د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د جاپان له سفیر څخه وغوښتل چې له افغانستان سره د لوړو زده کړو په برخه کې، په ځانګړې ډول د نصاب جوړونې، افغان استادانو روزنې او افغان

۷

## معین علمی وزارت تحصیلات عالی برنامه های فوق لیسانس پوهنتون ننگرهار را مورد ارزیابی قرار داد



معین علمی وزارت تحصیلات عالی طی سفر کاری به ولایت ننگرهار، هفت برنامه فوق لیسانس پوهنتون ننگرهار را مورد ارزیابی قرار داد.

دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی در جریان این سفر کاری، در حالیکه احسان الله ناصح معاون علمی این پوهنتون نیز حضور داشت، نصاب درسی، امور علمی و تدریسی هفت برنامه ماستری و دکتورای پوهنتون ننگرهار را که شامل ( برنامه های ماستری فقه و قانون، تفسیر و حدیث، قضا و څارنوالی، زبان و ادبیات پشتو و عربی، اداره و تجارت و دکتورای فقه و قانون ) می باشد، از نزدیک ارزیابی نموده و جهت تقویت بیشتر آن به مسئولان مربوطه هدایات لازم داد.

۷

## جلسه انسجام امور کاری معینیت مالی و اداری دایر شد

جلسه انسجام امور کاری معینیت مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی، به ریاست مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری این وزارت برگزار شد.

در این جلسه که با تلاوت آیات چند از کلام الله مجید آغاز شد، اعضای جلسه مطابق آجندا مروری کوتاه بر فیصله های جلسات گذشته انجام داده سپس در مورد حل مشکل کمبود آب مرکز وزارت و برخی از موارد دیگر شامل آجندا بحث و تبادل نظر کرده در زمینه فیصله های لازم اتخاذ نمودند.

جلسه با دعای خیر و فلاح کشور خاتمه یافت.



**خواهرم!**

**حجاب را به خوبی هایت اضافه کن ... !**

## سرلیکنه


د اسلام په لومړيو کې به چې کله صحابه کرامو کوم څه زده کول، هغه به يې پر خپل ځان عملي کول او تر هغه به يې نور اوامر او دستورات نه زده کول، تر څو به يې چې زده دستورات پر ځان نه وو عملي کړي. دغه راز له دې به يې وېره درلوده، داسې نه چې د الله تعالی په اوامرو پوه شي، خو په عملي کولو کې يې پاتې راشي. د صحابه کرامو دغه کار د اوسنۍ نړۍ مسلمانانو ته څه پيغام لري

له شک پرته چې الله تعالی له موږ سره زموږ د اعمالو پر بنسټ محاسبه کوي، نه زموږ د معلوماتو پر بنسټ. موږ هغه وخت د اخرت په ازموينه کې کامیابېدای شو، چې نېک اعمال ولرو او د عمل لپاره تر ټولو مهم شرط نيت دی. که د عمل انګېزه او نيت سم نه وي، زموږ د نېکيو تله نه شي درنولی او هېڅ ګټه هم نه لري. متل دی وايي: «هندو سترې، الله ناراضه «

همدا راز په دنيوي چارو کې هم د انسان په اړه د هغه د اعمالو له مخې قضاوت کېږي، نه د معلوماتو او کلونو له مخې. اعمال دي، چې انسان ته په ټولنه کې محبوبيت ورپه برخه کوي او د خلکو د باور وړ ګرځي. خو اوسمهال مسلمانان له پانګوال نظام څخه متأثر دي، له خپل اصلي مسير څخه منحرف شوي دي. حُب الّدنيا وکراحت الموت يې پيدا کړې. يوازې د دنيا د ژوند جوړولو لپاره هرې خواته لاس اچوي. په دنياوي چارو کې دومره ډوب دي، چې ان حلال او احرام يې له ياده وتلي دي او د خپل مسوولیت پر وړاندې بې پروا دي .

الله تعالی موږ له خپلې وسې په پورته کارونو نه يو مکلف کړي. موږ ته هم پکار ده، چې راته سپارل شوي کارونه په صادقانه ډول او نېک نيت سره ادا کړو، خپله انرژي په مثبتو کارونو کې ولګوو، هره شپه د خپلو ورځنيو چارو په اړه له خپل ځان سره محاسبه وکړو. خپل نېک او بد اعمال وارزوو او خپل رسالت په سمه توګه ادا کړو.

په درناوي
اداره




ترتيب: مدير جان کوټوال

### د هجرت پيل

وروسته له دې چې د عقبې دويم بيعت پوره او اسلام وکولای شو، چې د هغې دښتې او صحرا په مينځ کې چې د کفر او ناپوهۍ تياروبې و، اسلامي وطن جوړ او د دعوت له پيل څخه يې تر ټولو ستر او پياوړې بريا ترلاسه کړه؛ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم مسلمانانو ته اجازه ورکړه، چې د دغه نوي اسلامي وطن په لور هجرت وکړي.

له هجرت سره د مصالحو ختميدل او د مال قرباني تړلې وه، ځکه هجرت د يو نا معلومه طرف په لور سفر و او دا هم معلومه نه وه، چې له کومو ستونزو، غمونو او مشکلاتو سره به مخ کېږي.

سره له دې چې مسلمانانو ته دا ټولې ستونزې معلومې وې، بيا هم هجرت ته ليوال وو. مشرکانو چې د مسلمانانو هجرت د ځان لپاره خطر ګاڼه په هر ډول يې هڅه کوله چې د هجرت مخه ونيسي.

چې د دې ناروا هڅو نمونې په لاندې ډول دي:

۱- د ابن اسحاق د ليکنې له مخې لومړنی مهاجر ابو سلمة و، چې د عقبې له لوی بيعت څخه يو کال وړاندې يې هجرت کړی و.

کله يې چې د هجرت تکل وکړ خسرګنۍ پرې راټوله او ورته يې وويل: ته خو زورور سړی يې تاکې مو واک نشته، خو دا زموږ لور په کومه بيايې؟ ؛ نو ښځه يې ترې حصاره کړه.

په دې خبره د ابوسلمة کورنۍ په قهر شوه او ورته يې وويل، چې موږ خپل وراره له ښځې سره تاسو ته نه شو درکولی ، چې په دې سره د ماشوم په سر جنجال او دده د خپلولو په صورت کې د ماشوم لاس له ښځه وويستل شو.

او په دې ترتيب په لاس ګوډ ماشوم کاکا ګانو سره ولاړ.

ابوسلمة يوازې مدينې ته هجرت وکړ.

اُمې سلمې چې مېړه اوزوی دواړه يې له لاسه ورکړل، هر سهار به بطحاء ته تلله او تر ماښامه به يې هلته ژړل، چې پوره يو کال يې په همدې ډول هلته تېر کړ، با لاخره يې يو خپلوان په زړه وسوځيد او ويې ويل: دې بې چاره ته ولې اجازه نه ورکوئ، چې ولاړه شي او په کوم جرم مو له خاوند او زوی څخه جلا کړې ده؟

د قام خلک هم مهربان او ويې ويل : چې زړه دې صبر نه کوي؛ نو ولاړه شه او مېړه ته دې ورشه! او زوی دې له خسرګنې څخه وغواړه؟ ام سلمة يوازې د مدينې په لور روانه شوه، ترڅو(۵۰۰) کيلو متره سفر په يوازې ځان بې له کوم بنده څخه ترسره کړ.

خو چې تنعيم ته ورسېده عثمان بن طلحه بن ابي طلحه پرې رحم راغی او د مدينې په لور ورسره روان شو او کله يې چې قباء له ليرې څخه وليده؛ نو ورته يې وويل: ورځه! مېړه دې په دې کلي کې دی او خپله بېرته د مکې په لور ستون شو.

۲- کله چې صهيب د هجرت تکل وکړ؛ نو کافرو قريشو ورته وويل: موږ ته ناتوانه او مسکين راغلی وې، اوس ته هم ځې او مال دې هم اوباسې؟

صهيب ورته وويل: که مال دلته پرېږدم ماته خو څه نه وايئ چې لاړ شم؟

هغوی وويل: نه څه نه درته وايو.

صهيب وويل: نو زما ټول مال دې ستاسي وي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم چې خبر شو؛ نو ويې ويل، صهيب ګټه وکړه، صهيب ګټه وکړه.

عمر بن الخطاب رضی الله عنه، عياش بن ابي ربيعه او هشام بن العاص بن وائل په خپلو مينځونو کې وعده وکړه، چې سهار وختي به فلانې ځای ته راځوو او بيا به له هماغه ځايه يوځای د مدينې په لور هجرت کوو ، عمر او عياش سهار د وعدې ځای ته راغله، خو هشام د وعدې ځای ته ونه رسېده او کافرو بندي کړ.

کله چې دواړه مدينې ته ورسېدل او په قباء کې دېره شول؛ نو ابوجهل د خپل ورور حارث په ملتيا چې مورنی ورور يې و ورغی او ورته يې وويل:

مور دې سوګند کړی، چې تا ونه ګوري ترهغې به نه وينښتو ته ږمنځ ويسي او نه به له لمر څخه سيوري ته ولاړه شي، عياش مور ته خورا غمژن او تلو ته تيار شو.

عمر ورته وويل: چې ای عياشه! سوګند په الله جل جلاله د دې خلکو اراده داده، چې تا بېرته له دين څخه واړوي، سوګند په الله ج که مور دې له سپږو په تنګ شوه سر به ږمنځ کړي او که د مکې لمر وسوزوله سيوري ته به لاړه شي.

عمر چې هرڅه وويل: خو عياش وويل: زه به د مور د سوګند پوره کولو لپاره يوځل مکې ته ځم.

عمر خپله اوښه ورکړه او ورته يې وويل: که يې در سره ټګي وکړه، په همدې اوښه سپور او ځان ترې راخلاص کړه.

عياش له ابوجهل او حارث سره روان شو ، چې له څه تګ وروسته يې پرې نابېره حمله وکړه او ښه کلک يې وتاړه او مکې ته له تلو سره سم يې خلکو ته وويل: خپل ناپوهان مو دغه شان وتړئ! لکه موږ چې تړلی دی.

د عقبې له لوی بيعت څخه لا څو ورځې د پاسه دوه مياشتې نه وې تېرې شوې، چې په مکه کې بې له رسول الله صلی الله عليه وسلم، ابوبکر رضی الله عنه، علي رضی الله عنه او هغو کسانو څخه چې مشرکانو بنديان کړي وو ، يو کس هم نه وو پاتې.

ابو بکر رضی الله عنه او علي رضی الله عنه هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم د امر مطابق پاتې وو.

رسول الله صلی الله عليه وسلم هم ځان تيار کړی و ، يوازې دېته يې کتل، چې کله به ورته اجازه کېږي؟ او ابوبکررضی الله عنه هم ځان تيار کړی.



## هیئت وزارت امر به معروف و نهی از منکر...



مولوی فضل الربی یک عضو دیگر هیئت وزارت امر به معروف و نهی از منکر با تشریح کار ها و مسؤلیت ها در پرتو قرآن و حدیث، از رهبری و کارمندان وزارت تحصیلات عالی به خاطر اینکه صورت و سیرت خود را با اصول اسلامی عیار نموده اند، قدردانی کرد.

وی همچنان از همه اشتراک کنندگان خواست احکام شرعی را به خاطر اصلاح خانواده و جامعه عملی نمایند.



در آخر این نشست، مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی ضمن قدردانی از هیئت وزارت امر به معروف و نهی از منکر، اطمینان داد که رهنمود های آنان عملی خواهد شد.

معین مالی و اداری این وزارت افزود: " مسؤلیت هر مسلمان است که همدیگر را توصیه نموده و راه راست را نشان دهند."

این نشست با دعای خیر به پایان رسید.



## د لوړو زده کړو سرپرست وزير د جاپان له سفير ...



محصلانو ته د سکالرشيپونو د ورکولو په برخه کې مرسته وکړي .

همدارنګه د جاپان سفير تکاشي اوکاډا په تحصيلي ډګر کې د لوړو زده کړو وزارت فعاليتونه وستايل او د نصاب او پاليسي جوړونې او همدارنګه افغان استادانو روزنې په برخه کې يې د همکارۍ ډاډ ورکړ او زياته يې کړه، چې جاپان به قدم په قدم له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

## معین علمی وزارت تحصیلات عالی برنامه های فوق لیسانس...



هم چنان محترم خیرخواه در این دیدار، صنوف درسی، کتابخانه ها، طی مراحل موضوعات تحقیقی و تیزس نویسی و سایر بخش های پوهنتون ننگرهار را مورد ارزیابی قرار داد.

وی در نشستی با مسئولان، استادان و محصلان برنامه های یاد شده، نظریات، پیشنهادات و مشکلات آنان را پیرامون تقویت بیشتر این برنامه ها استماع نموده در زمینه حل مشکلات شان اطمینان داد.

معین علمی وزارت تحصیلات عالی موجودیت برنامه های علمی یاد شده را در کشور یک فرصت خوب عنوان کرده اظهارداشت که در راستای معیاری سازی و انکشاف بیشتر آن تلاش صورت گیرد.

## د تضمين کيفيت او اعتبار ورکونې د مقررې د...

د لوړو زده کړو وزارت د پلان او پاليسي رياست حقوقي آمر ګډون کړی و .

په پيل کې د لوړ زده کړو وزارت د تضمين کيفيت او اعتبار ورکونې رئيس د تضمين کيفيت او اعتبار ورکونې د مقررې په اړه معلومات ورکړل او ويې ويل، چې د يادې مقررې په اړه له بحث څخه موخه د يادې مقررې د ځينو برخو تعديل او بياکتنه ده، چې پخوا هم يو څه کار پرې شوی و .

وروسته د ناستې غړو له اجنډا سره سم د تضمين کيفيت او اعتبار ورکونې د مقررې د موادو، د لوګر لوړو زده کړو مؤسسې د لومړي او دويم پړاو د بياکتنې راپور او د جوزجان پوهنتون له بياکتنې وړاندې پروسې ارزونه او لازمې پرېکړې وشوې.

## رئیس دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی...

در این دیدار که نماینده اتحادیه پوهنتون های خصوصی نیز حضور داشت، کمیته امر به معروف و نهی از منکر مؤسسه تحصیلات عالی اهل بیت از فعالیت این کمیته و تطبیق برنامه های ریاست دعوت و ارشاد وزارت تحصیلات عالی در این نهاد گزارش داد.

پس از آن، شیخ شاکرالله وحدت رییس دعوت و ارشاد این وزارت در نشستی با استادان و محصلان این مؤسسه تحصیلاتی در باره ارزش های دینی و اسلامی تأکیده نموده گفت که جوانان حق دارند تا در پرتو ارزش های دینی به تحصیلات خود ادامه دهند.

رییس دعوت و ارشاد همچنان گفت که ادامه تحصیل جوانان از ضرورت های جدی کشور بوده و وزارت تحصیلات عالی برای ایجاد سهولت بیشتر تحصیلی به جوانان تلاش می کند.

## په کندهار ولايت کې د څلورو خصوصي لوړو ...

ارزښتونو سمبال محصلين ټولنې ته وړاندې کړي .

همدارنګه د يادو خصوصي تحصيلي بنسټونو مسؤلانو د لوړو زده وزارت د څارنې او ارزونې رياست له پلاوي څخه د مننې تر څنګ، د لوړو زده کړو وزارت د پاليسيو د عملي کولو ژمنه وکړه.

# په ژوند کې نیکمرغي

غ.د.خاورین

د نیکمرغۍ کلیمه هرچا ته په زړه پورې ده او په هره ژبه کې ډېره کارول کیږي. خو په خپله نیکمرغي ډېرو ته د عنقا افسانه ده. ټول خلک نیکمرغۍ پسې لالهانده دي؛ خو ډېر لږ شمیر یې موندلی شي. هرچاته د نیکمرغۍ راز د ده د یو ارمان په پوره کیدو کې نغښتی دی چې ورپسې هلې ځلې کوي. نیستمن یې په مال او دولت کې، بې اولاده کسان یې د نیک او صالح اولاد په لرلو کې، بې تعلیمه یې په تعلیم کې، مساپر او مهاجر یې په خپل وطن کې، بې کوره بې اوره یې په کور کهول لرلو کې لټوي. ځینې هم روغتیا او ځینې نور بیا د نیکمرغۍ راز قناعت بولي. خو دا یو هم د نیکمرغۍ یوازینی راز نه بلل کیږي. که نیکمرغي د مال او دولت په لرلو کې وای، هیڅ شتمن به غمجن او پریشانه نه و؛ حال داچې په اوسنۍ نړۍ کې له نیستمنو او بې وزلو څخه د شتمنو خلکو غمونه ډېر دي. او که نېکمرغي د نیک او صالح اولاد په لرلو پورې تړلې وای نو د ښو اولادونو میندې او پلرونه به بل غم نه درلود؛ بلکې د دوی غمونه له نورو څخه کم نه دي. همدا راز که څوک په تعلیم کې پرمختګ وکړي له نورو نویو غمونو او ستونزو سره به مخ شي. مساپر او مهاجر هم په جلاوطنۍ کې د بیوسۍ او بیکسۍ غمونه زغمي خو په خپل ټاټوبي کې به ډیرو نورو ستونزو سره مخ شي. بې کوره ته که خدای کور ورکړي، له هغه سره ورته نورې هیلې پیدا کیږي بیا که د هرې هیلې پر وړاندې ورته خنډ پیدا شي، د نویو غمونو ور به ورپرانیستل شي. ناروغ هم چې روغ شي، یو څو ورځې به شکرونه کوي خو بیا ورته عادي خبره شي؛ په زړه کې یې نورې هیلې را ژوندۍ شي. په قناعت سره د نهیلۍ مخه نه نیوله کیږي، ځکه نو په دې کې هم د نیکمرغۍ راز پروت ندی. که د انسان ټولې هیلې ترسره شي، په رښتیا چې هغه به نیکمرغه وي؛ خو دا شوني نده؛ ځکه چې دهرې هیلې د ترسره کیدو سره په انسان کې بله هیله را پیدا کیږي او دا کار د ژوند تر پایه پورې دوام کوي. نو څه پریکړه کولای شو؟ ایا ووایو چې په ژوند کې هیڅ نیکمرغي نشته او دا یوه بې مصداقه کلیمه ده او هیڅ څوک نیکمرغه ندی؟ نه! نیکمرغي شته او حقیقت لري؛ خو دا حقیقت یوازې په نسبي تله تلل کیدای شي. نیکمرغي یوه نسبي (پرتلیزه) پدیده ده. د یوه کس د نیکمرغۍ کچه باید له بل سره پرتله شي. د بیلګې په توګه؛ هغه څوک چې روغ رمټ وجود او روغې سترګې لري، له هغه چا نه چې په سترګو څه نشي لیدلی او ژوند په سوال تیروي، نیکمرغه دی. او همداسې نور...

نیکمرغي د اروا پوهنې له پلوه

زیات شمیر اروا پوهان په دې خبره یوه خوله دي چې نیکمرغي په ډله یا ټولنه کې د وګړي منل کیدل دي. څومره چې یو څوک په خپله ډله یا ټولنه کې منل شوی وي، هومره به د نیکمرغۍ احساس کوي؛ خو څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه اندازه یې په نسبي تله ټاکل کیږي، نه په مطلقه پیمانه! یعنی څومره چې څوک په خپله ډله یا ټولنه کې منل شوی وي هومره به د نیکمرغۍ احساس کوي. د بیلګې په توګه دلته د یوې کورنۍ دوه ماشومان په نظر کې نیسو چې عمرونه یې د دولسو او څوارلسو کلونو ترمنځ دي. د یوه ماشوم مور مړه شوې او له خپلې مورڅخه بل خور او ورور هم نلري. بل ماشوم چې د ده میرنی ورور دی، مور یې ژوندۍ او له خپلې مور څخه دوه نور واړه ورونه او یوه خور لري. هغه یو وزری بی موره ماشوم چې د مور له مینې څخه بې برخې دی، د پلار له پامه هم غورځیدلی دی؛ د کور نور غړي په خپلو کې بسیا دي او ده ته څه پام نه کوي. دا بې موری ماشوم په دې کور کې ځان بیوسه او بیکسه احساسوي. د بیکسۍ د احساس له کبله به په ده کې کبر او غرور پیدا نشي؛ د خپل د ژوند د کمښت پوره کولو لپاره غواړي چې په مدرسه یا ښوونځي کې ښه و بریښي. ځکه د مدرسې یا ښوونځي په چارو کې به زیات زیار وباسي چې هلته د منلو چانس ترلاسه کړي. د همزولو او ټولګیوالو سره د ده ساده او بې کبره چلند کیدای شي د دوی تر منځ د ښو اړیکو د را منځ کیدو لامل و ګرځي چې په پایله کې کیدای شي په مدرسه / ښوونځي کې یو منلی زده کوونکی شي؛ ورسره به په دې چاپیریال کې د نیکمرغۍ احساس وکړي. ښوونځي/ مدرسې ته به شوق او مینې سره ځي خو په کور کې چې د منل کیدو چانس نه لري، هلته به د نیکمرغۍ احساس نه کوي. د کور خواته به په نه زړه روان وي خو د ده د نورو ورونو د نیکمرغۍ لوری بیا اپوټه (برعکس) دی.

# کتور نصیحتونه

راټولونکی : زمری یعقوبي

(ومـاآتـاکم الرسـول فخدوه ومـا نهـاکم عنـه فانتهوا)

- (رسول الله صلی الله علیه و سلم چې تاسو ته څه هم درکړي؛ نو هغه واخلئ اوله څه نه چې هغه تاسو منع کړي یئ؛ نو تاسو منع شئ...).(صحیح البخاری)
- د منافق درې علامې دي (۱)څه وخت چې خبرې کوي درواغ وایي (۲) څه وخت چې وعده وکړي وفا نه کوي (۳) په امانت کې خیانت کوي). (رواه احمد)
- که چیرې د سړي په زړه کې د سپیلني د دانې په اندازه کبر هم وي، هغه به جنت ته داخل نشي (کبرد خلکو تحقیرول دي).(رواه الطبراني)
- د قیامت په ورځ به ترټولو هغه څوک ماته نږدې وي، چې پرما باندې یې دېر درود ویلی وي، کوم سړی چې سهار او ماښام پرما باندې لس لس واره درود شریف وایي په قیامت کې د ده له پاره زما شفاعت په نصیب کیږي.(صحیح مسلم)
- تر ټولو ښه ورځ چې لمر په کې راخیژي د جمعې ورځ ده، په دغه ورځ کې حضرت آدم پیدا شوی دی او هم په دغه ورځ جنت ته داخل شوی او په دغه ورځ د جنت څخه ایستل شوي او قیامت به هم په دغه ورځ وي.(سنن ابوداود)
- دحسد او بغض څخه تیښته وکړئ؛ ځکه چه حسد او بغض د انسان نیکې داسې خوري لکه اور چې بوټي خوري (یعنې سوځي). (صحیح مسلم)
- د ایمان خوند هغه څوک څکلای شي، چې د الله تعالی په ربوبیت، د اسلام په دین او د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم په رسالت خوښ وی.(رواه البیهقي)
- د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه پوښتنه وشوه، دعلم کومې اندازې ته چې انسان ورسیږي؛ نوفقیه بلل کیږی؟ حضرت وفرمایل څوک چې زما امت ته په دیني کارو کې څلویښت حدیثونه تبلیغ کړي الله پاک ته به یې شفیع او شاهد اوسم.(سنن الترمذي)



# آیا بدون اجازه شوهر خانم به خانه پدر رفته می تواند؟

ترتیب کننده: ناصرخان شیرزی

زندگی مشترک همسر وخانم باید به احترام متقابل، تفاهم و محبت استوار باشد ، و گپ به این جا نه رسد که زن را شوهرش از کار های مباح منع کند ویاهم زن بدون ضرورت ویا هم در حالیکه اولاد و شوهرش به او احتیاج دارند، از خانه بیرون شود.

اصل در اسلام این است که زن باید در خانه باشد ، الله جل جلاله در سوره ی احزاب آیه ۳۳ می فرماید : ( وقرن فی بیوتکن) [الأحزاب:۳۳]

ترجمه: و در خانه‌هایتان قرار گیرید.

و رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید: " لو کنت آمراً أحداً أن یسجد لغیر الله لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها، والذی نفس محمد بیده لا تؤدی المرأة حق ربها حتی تؤدی حق زوجها کله...". رواه أحمد وابن ماجه بسند حسن.

ترجمه: اگر من یکی ازشما را بغیر از الله جل جلاله به کسی دیگری به سجده امر می نمودم ، به خانم ها امر می کردم که به شوهرانشان سجده کنند، به آن ذاتی قسم که نفس محمد در دست اوست، زن حق رب خود را اداء نه کرده ، تا زمانی که همه حقوق شوهرش را اداء نه نماید... .

و در حدیث دیگری آمده است که: (إذا صلت المرأة خمسها، و صامت شهرها، و حفظت فرجها، و أطاعت زوجها، قیل لها ادخلی الجنة من أی أبوابها شئت)

ترجمه: اگر زن نمازهای پنجگانه را بجا آورد و روزه رمضان را بگیرد و از زنا دوری کرده و از شوهرش اطاعت کند به او گفته می‌شود از هر دری از درهای بهشت که می خواهی داخل شو.

در مقابل زن هم بالای شوهرش حقوق فراوان دارد که باید آنرا اداء نماید، رسول الله صلی الله علیه وسلم می گوید: {استوصوا بالنساء خیرا فإنهن خلقن من ضلع وإن أعوج شیء فی الضلع أعلاه فاستوصوا بالنساء خیرا} رواه الشیخان فی الصحیحین

ترجمه : با زنان، نیکو رفتار کنید؛ زیرا زن از قبرغه ی کج آفریده شده است و باید گفت قبرغه هر چه بالا تر باشد، کج تر است. پس اگر بخواهید آن را راست کنید، می‌شکند و اگر آن را به حال خود بگذارید، کج می‌ماند. پس با زنان، نیکو رفتار کنید.

همچنان می فرماید: أکمل المؤمنین ایمانا أحسنهم خلقا و خیارکم خیارکم لنسائهم.

کامل ترین مؤمنان، کسی است که خوش اخلاق تر است و نیک ترین شما آنانند که برای زنان شان نیکوترند.

فقهاء کرام بر این متفق اند که در وقت ضرورت عاجل زن میتواند بدون اجازه شوهرش از خانه بیرون شود، مانند آتش سوزی، یا استفتاء کدام مسأله دینی که شوهرش در آن موضوع به او کمک کرده نمی تواند، یا ترس دشمن وغیره.

در مورد رفتن خانم به خانه والدینش اکثریت علماء می گویند که نباید شوهر خانمش را از رفتن به خانه ی پدرش منع کند، مگر این که به رفتن زنش به او کدام تاوان و ضرری میرسد و یاهم در امور خانه و اولاد کدام مشکلی ایجاد می شود، در این حالت اگر زنش را منع کرد، می تواند.

علمای احناف و مالکی بر این باورند که: شوهر زن را از خانه ی پدرش منع کرده نمی تواند.

قال الزیلعی فی تبین الحقائق: قیل لا یمنعها من الخروج إلی الوالدین إلخ. قال الکمال: ولو کان أبوها زمنا (مریضاً) مثلاً، وهو یحتاج إلی خدمتها، والزوج یمنعها من تعاهده فعلیها أن تعصیه، مسلماً کان الأب أو کافراً.

زیلعی در تبین الحقائق میگوید: گفته شده که از رفتن به دیدن والدین زن خود را منع کرده نمی تواند ...، کمال می گوید: اگر پدر زن مریض باشد مثلاً، او به خدمت دخترش احتیاج دارد و شوهرش اورا منع می کند ، پس زن میتواند که بدون اجازه ی شوهرش به خانه وخدمت پدرش برود، ولو که پدرش کافر باشد یا مسلمان.

همچنان در مدتی که باید به خانه پدر خود برود علماء آرای مختلف دارند : درمذهب مالکی آمده است که باید در هفته ای یک بار برای زن خود اجازه رفتن به خانه والدینش را بدهد.

وگروهی از احناف می گویند: در یک وقت معین برایش اجازه ای رفتن بدهد، زیرا در هر هفته رفتنش یک اندازه مشکل است، زیرا در بسیار برآمدن زن از خانه دروازه ی فتنه باز می شود.


حاصل سخن اینکه شوهر، زنش را از رفتن به خانه ی والدینش منع کرده نمی تواند، که زندگی زن و شوهر یک زندگی محبت آمیز و استوار بر احترام متقابل باشد، و زن باید خانه شوهرش را خانه ی اصلی خود بداند، و هر دو طرف از الله جل جلاله بترسند وحقوق یک دیگر را زیر پا نه نمایند، ولی اگر یک طرف احیاناً کدام ظلم و یا خطایی در حق طرف دیگری مرتکب می شود، باید از جنگ وپرخاش خود داری گردیده ومشکل ازراه تفاهم و وساطت دوستانی که قابل احترام هردو طرف اند، حل شود.

# دانشمندان موفق به ساخت درخشان ترین لیزر پرتو ایکس جهان شدند

ترتیب: عنایت الله حنیفی

دانشمندان آزمایشگاه ملی شتاب دهنده اسلک توانستند درخشان‌ترین لیزر پرتو ایکس جهان به نام LCLS-IIرا بسازند. این لیزر می تواند تصویری از اتم ها را در یک میلیون بار در ثانیه ثبت کند.

به گزارش سرویس اخبار فناوری و تکنولوژی تکنا، کار ساخت درخشان ترین لیزر پرتو ایکس جهان توسط دانشمندان آزمایشگاه ملی شتاب دهنده اسلک رو به اتمام است. لیزر LCLS-II در صورت به کارگیری می تواند ده هزار برابر درخشان‌تر از قویترین لیزر پرتو ایکس کنونی باشد.



این آزمایشگاه در ایالت کالیفرنیا آمریکا به وزارت انرژی ایالات متحده تعلق دارد و اداره آن توسط دانشگاه استنفورد انجام می گیرد. لیزر مورد نظر در فاصله ۹ متری زیر زمین و در نزدیکی دانشگاه استنفورد ساخته می شود. قرار است لیزر LCLS-II پس از عملیاتی شدن به فیزیک دانان در درک برخی از نا شناخته های اساسی جهان کمک کند. قرار است این لیزر با طولی حدود ۳,۲ کیلومتر در یک تونل حفاری ویژه گسترش پیدا کند.

پیش از این نیز در سال ۲۰۰۹ نسخه دیگری از این لیزر به نام LCLS-I با قابلیت ایجاد پرتویی با ۱۲۰ پالس شلیک نور در ثانیه فعال شده بود. اما لیزر کنونی با امکان تولید یک میلیون شلیک در ثانیه رکورد جدیدی را ثبت کرده است.

دکتر جیمز کریان، دانشمند این آزمایشگاه ملی در مورد توسعه لیزر گفته است: لیزر LCLS-II می تواند آغاز کننده دوره جدیدی از علم باشد. لیزر ساخته شده توانایی شلیک بسیار سریع و خارق العاده داشته و می‌تواند پالس‌هایی را زیر یک فمتو ثانیه ایجاد کند. بنابراین دانشمندان با استفاده از آن می توانند بسیاری از آزمایشاتی که تا به حال امکان تصور نبوده را انجام دهند.

منبع: انترنت

# رتبه بندی QS پوهنتون های جهان

پوهنتون ها امروزه افزون بر شاخه و رشته، در کلیت و میانگین نیز رتبه بندی می شوند. سایت رتبه بندی پوهنتون های جهان و پایگاه های علمی معتبر QS سالانه این رتبه بندی را انجام می دهد. رتبه بندی QSپوهنتون های جهان ( Quacquarelli Symonds ) یکی از معتبر ترین رتبه بندی هاست که پوهنتون ها را بر اساس پارامترهای گوناگونی چون: برآورد تولید علم، اشتغال فارغ التحصیلان، رضایت محصلان، سطح استادان، تعداد داوطلبان و... رده بندی می کند. رتبه بندی QS پوهنتون های جهان پر بازدید ترین رتبه بندی پوهنتون ها در سطح اینترنت است. بر اساس این رتبه بندی، بهترین پوهنتون دنیا، پوهنتون ماسچوست آمریکا است. در زیر بهترین پوهنتون های جهان از دیدگاه QS در سال جدید را نشان می دهد:

| رتبه در آغاز سال ۲۰۲۱ | کشور | پوهنتون |
|---|---|---|
| 1 | آمریکا | Massachusetts Institute of Technology |
| 2 | آمریکا | Stanford University |
| 3 | آمریکا | Harvard University |
| 4 | آمریکا | California Institute of Technology |
| 5 | انگلستان | University of Oxford |
| 6 | سویس | ETH Zurich |
| 7 | انگلستان | University of Cambridge |
| 8 | انگلستان | Imperial College London |
| 9 | آمریکا | The University of Chicago |
| 10 | آمریکا | USL |

جدول فوق که مطالعه کردید لیست ۱۰ پوهنتون برتر دنیا است.

در جدول زیر رتبه های ۱۱ تا ۲۰ پوهنتون های برتر جهان را مشاهده می کنید.

| رتبه در آغاز سال ۲۰۲۱ | کشور | پوهنتون |
|---|---|---|
| 11 | سنگاپور | National University of Singapore |
| 12 | آمریکا | Princeton University |
| 13 | سنگاپور | Nanyang Technological University, Singapore |
| 14 | سوییس | E.P.F.L |
| 15 | چین | Tsinghua University |
| 16 | آمریکا | University of Pennsylvania |
| 17 | آمریکا | Yale University |
| 18 | آمریکا | Cornell University |
| 19 | آمریکا | Columbia University |
| 20 | اسکاتلند | University of Edinburgh |
| 21 | آمریکا | University of Michigan-Ann Arbor |

## دروغجن هر وخت!!!

راتولوونکی: محمد اسلم اسلم

دراواغجن انسان هر وخت ورخطا وي.
دراواغجن انسان هر وخت شکمن وي.
دراواغجن انسان هر وخت کمزوری وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې زړه وي.
دراواغجن انسان هر وخت کم جراته وي.
دراواغجن انسان هر وخت کم ظرفه وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې اعتماده وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې وفا وي.
دروغجن انسان هر وخت بې ضميره وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې فکره وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې حافظې وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې دليله وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې منطقه وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې حوصلې وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې ثمر وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې ځوابه وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې فايدې وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې خونده وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې ذکره وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې جوړې وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې پېسې وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې وعدې وي.
دراواغجن انسان هر وخت بې انصافه وي.

## د قيامت په ورځ د بدلمنو انسانانو بدبويي

راټولوونکی: فرحت الله مزمل

امام سيوطي رحمه الله په خپل کتاب (البدور السافرة، ۱۵۹ مخ) کې د ابن ابی الدنيا په حواله د حضرت علي رضی الله عنه لاندې روايت را اخيستی دی:

(د قيامت په ورځ به پر خلکو باندې يوه داسې بدبويه تورږم (هوا) را والوځي چې له بد بويه به يې نيك عمله او بدعمله ټول چيغې کړي، کله چې هغه په بشپړ ډول خپره شي نو يو آواز کوونکی به غږ کړي چې ټول به يې اوري: (د کومې بدبويي له امله چې تاسې ټول په عذاب يئ پوهېږئ؟

چې دا دڅه شي بدبويي ده؟

خلك به ووايي چې نه! بيا به دوی ته وويل شي دادهغو بدلمنو انسانانو د عورتونو بدبويي ده چې د بدلمنۍ په ګناه اخته مړه شوي دي اوتوبه يې ابستلې نه ده، بيابه دغه تورږم ورك شي، ځو پورې چې دغه بدبويي وي نه به دچا جنت په ياد وي اونه هم دوزخ.



# د اسلامي حاکمانو، اخلاق او صفات

ليکوال: الحاج مولوي عبدالباقي حقاني

## رښتيا ويل

اداري مسؤول او مشر بايد تل په خپلو خبرو کې رښتينی وي او له دراواغو ځخه ځان وساتي، د رښتيا ويلو ګټې ډېرې او د دراواغو تاوانونه ډېر لري.

## د رښتيا ويلو ارزښت او فضيلت د قرآن او سنت په رڼا کې

په اسلام کې رښتيا ويل ډېر ارزښت لري، رښتيا په ژبه، زړه او عمل کې يو والي ته وايي او په همدې باندې ټول اخلاق او معاملات راڅرخي.

په قرآن کريم انسان ته د تقوا کولو نه وروسته د رښتينو خلکو د ملګرتيا حکم کېږي، چې د رښتينو اشخاصو ملګرتيا وکړئ!

الله تعالی فرمايي: ژباړه: ای مؤمنانو! د الله تعالی نه وېره کوئ او د رښتينو خلکو سره ملګري اوسېږئ! سورته توبه(۱۱۹) آيات.


په علمي فضايلو کې رښتيا بنسټيز حيثيت لري، له همدې امله په کايناتو کې د دين او دنيا کاميابي او فايدو انحصار د رښتيا په فضيلت دی.

الله تعالی فرمايي: ژباړه: په مؤمنانو کې ځينې داسې دي، چې د الله تعالی سره يې خپل لوظ په رښتيا پوره کړ. سورته احزاب(۲۳) آيات.

او همدارنګه د صدق او رښتيا ويلو د عظمت لپاره دا کافي ده، چې کله الله تعالی حضرت انبياوو عليه السلام ستاينه کوي؛ نو په ستايلو کې د ټولو نه مخکې د رښتينوالي ذکر کوي .

ژباړه: او ته په دې کتاب کې د ابراهيم عليه السلام ذکر وکړه، بېشکه هغه ډېر رښتينی نبي ؤ. سورته مريم (۴۱) آيات.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو کس راغی او ورته يې وويل، چې ای د الله رسوله صلی الله عليه وسلم! د جنت عمل څه دی؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: (الصدق) د جنت د اعمالو نه يو عمل رښتيا ويل دي.




## د حضرت عبدالله بن عباس (رضی الله عنه) وينا

کله چې حضرت عمر رضی الله عنه ټپي کړای شو؛ نو حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه ورته په داسې حال کې راغی، چې ده ژړل، پوښتنه يې ترې وکړه، چې ولې ژاړې؟ هغه ورته وويل: (يبکيني امر آخرتي) د اخرت کار مو ژړوي، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه ورته وويل: يقيناً ای اميرالمؤمنين! په تا کې داسې درې خصلتونه دي، چې په دې سره الله تعالی تا ته غذاب نه درکوي، حضرت عمر رضی الله عنه ورته وفرمايل: هغه خصلتونه کوم دي؟ هغه ورته وويل: اول دا چې ته خبرې کوې؛ نو رښتيا وايې، دويم دا، چې کله پرېکړه کوې؛ نو په عدل سره يې کوې او چې کله درنه د ترحم او لوروني غوښتنه وشي؛ نو شفقت او ترحم کوې، حضرت عمر رضی الله عنه ورته وفرمايل: ته به د الله تعالی په مخکې د دې ګواهي ورکړې؟ هغه ورته وويل: هو.

## د رښتيا ډولونه

رښتيا په درې ډوله ده:

۱- د وينا رښتيا
۲- د ضمير رښتيا
۳- د عمل او کردار رښتيا.

د وينا رښتيا دې ته وايي، چې روا خبرې نقل کړي، د عمل او کردار رښتيا دې ته وايي، چې خپله رښتينولي په عمل کې ثابته کړي او خپله ژمنه ترسره کړي. لکه الله تعالی چې د ځنې صحابه کرامو رضی الله عنهم د ژمنو رښتينولۍ ته اشاره کړې ده.

ژباړه: د مؤمنانو په ډله کې داسې خلک هم شته، چې د الله تعالی سره يې په کړو ژمنو وفا وکړه. سورته احزاب(۲۳) آيات.

يعني د الله تعالی په لاره کې يې خپل سرونه نذرانه کړل.

د ضمير رښتينولي تصديق ته وايي، په دې معنی، چې د انسان پټ او ښکاره يو د بل تائيد کوي. لومړۍ درجه رښتينولي بيا هغه ده، چې پټ او ښکاره يې برابر وي او د ټولونه غوره رښتينی انسان هغه دی، چې د وينا، کړنې او احوالو له پلوه رښتينی وي.

د امام اصفهاني رحمه الله خبره

امام اصفهاني رحمه الله وايي: صدق او رښتيا ويل د هغه ارکانو نه يو دی، چې په هغې د ټول عالَم پايښت ولاړ دی، تر دې که رښتيا ويل ختم شي؛ نو بيا د عالَم نظام او بقا نه صحيح کېږي او دا صدق د ټولو نيکو خصلتونو بنسټ، د نبوت رکن او د تقوی نتيجه ده.

که چېرته رښتيا ويل نه وي؛ نو د شريعت احکام به باطل شي او په دراواغو عادت کېدل د انسانيت ځخه وتل دي. څوک چې په دراواغو ويلو مشهور شي؛ نو بيا د ده په وينا څوک باور نه کوي او د چا په وينا، چې باور ونه شي؛ نو بيا د ده وينا ګټوره نه ګرځي، او د چا وينا چې ګټوره نه وي؛ نو دا انسان او حيوان سره برابر دي؛ بلکې دا انسان له حيوان هم بد تر دی؛ ځکه چې حيوان ته که د ده ژبه ګټه ونه رسوي؛ نو ضرر او نقصان هم ورته نه رسوي او دراواغجن ته د هغه ژبه د دراواغو په ويلو سره تاوان رسوي او ګټه ورته نه کوي.

د رښتيا ويلو اسباب، په راتلوونکي ګڼه کې...